UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د ستراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بيانيه
http://unama.unmissions.org

**د ۲۰۱۰ د اپريل ۱۹- د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازي استيفن دې ميستورانن ورځ له فضل احمد معنوی سره چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون نوی رئيس دی وکتل.**

ښاغلی دې ميستورا ښاغلی معنوی ته د هغه د ټاکل کيدو له امله مبارکي وويله، نوموړی په دې مهال د دې يادونه وکړه چې د ده د ټاکنې په پراخه توګه هر کلی شوی دی او د دې په هيله دی چې په راتلونکو مياشتو کې به له ده سره کاري اړيکې ولري.

ښاغلی دې ميستورا د ټاکنو په اړه د هغو لارښوونو پلی کولو ته اشاره وکړه چې د هغو په اړه د ملګرو ملتونو له خوا د ولسمشر، د پارلمان د غړو، افغان سياسي اړونده خواوو او نړيوالو ټولنی سره بحث شوی دی ځو دا باوري کړای شي چې ټاکنې تر ممکنه حده پورې رنې او شفافې وې.

ښاغلی دې ميستورا زياته کړه چې دغه ټاکنې بايد د تير کال د ټاکنو پورې ښې وي او د هغو لارښوونو چې پرې هوکړه شوې موخه دا ده چې د ټاکنو خپلواک کميسيون ته هغه لارې چارې برابرې کړي چې د ټاکنيزو چمتووالی د پرمخ بولو لپاره ورته اړتيا لري.

ښاغلی دې ميستورا دغه راز وويل چې د ښاغلی معنوی په ټاکنې او د لارښوونو په عملي کولو سره هغه نړيوالي ټولنې ته سپارښتنه کړې ده چې څومره چې ژر چې شوني وي د ټاکنو د پيل کيدو لپاره مالي مرستې وليږدوي.

ښاغلی دې ميستورا له راتلونکو پارلماني ټاکنو سره د ملګرو ملتونو بشپړ تخنيکي او لوژيستکي ملاتړ څرګند کړ او بيا يې په دې ټکي ټينګار وکړ چې ټاکنې افغاني دي او افغاني نهادونه بايد هغه پر مخ بوځي.

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan

Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org

Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA